## د مسلک لومړنی لارښود

د مسلک لارښوونه له تاسو سره مرسته کوي او تاسو ډیر باوري کوی چی د زده کړې او کار په اړه غوره انتخاب وکړئ. د اوسلو د مسلک په مرکز کې به تاسو د مسلک مشاور سره لیدنه وکړئ ، هغه به له تاسو سره د هغه څه شیانو په اړه خبرې وکړي چې تاسو یې کولی شئ او یا غواړئ یې. د مسلک مشاور به تاسو سره د هغه څه په اړه هم خبری وکړئ چې تاسو په خپل ژوند کې مخکې ترسره کړي وي، او په دې اړه چې تاسو څنګه کولی شئ په ناروې کې خپلې تجربې وکاروئ. موږ د تاسو ښیګڼه غواړو، او موږ تل تاسو او د ستاسو وضعیت ته درناوی کوو.ز



**انعکاس**

د اوسلو د مسلک مرکز کی به تاسو د مسلک مشاور سره لیدنه وکړئ هغه به تاسو سره د هغه څه په اړه وغږیږي چې تاسو په تیرو وختونو کې ترسره کړي وي، تاسو څه سره شوق لرئ ، تاسو څوک یاست او تاسو په ناروې کې څه کار او څه زده کړې غواړې وکړئ.

**ستاسو کیسه**

موږ فکر کوو چې تاسو له پخوا څخه ډیره پوهه او تجربه لرئ ، دا به د ستاسو نوي ژوند لپاره په ناروې کې مهمه وي. له همدې امله موږ هیله لرو چې تاسو موږ ته د خپل له هیواد څخه د خپل ژوند په اړه څه ووایاست.

**تاسو پریکړه کوئ**

تاسو او د مسلک مشاور به د هغه څه په اړه چې تاسو غواړئ د مسلک لارښووني په مرکه کی خبرې پری وکړئ ، موافق یاست. دا تاسو یاست چې د ستاسو د راتلونکي لپاره انتخاب کوئ ، او د مسلک لارښونې مشاور پریکړه نه کوي چې تاسو باید څه وکړئ یا څه انتخاب کړئ ، خو تاسو کولی شئ په ګډه سره مختلفه امکانات وګورئ.


په اولو وختونو کی د اوسلو د بالغانو د زدکړو په مرکز کی به ډیری غوندی وي:

د پلان جوړولو غونډه -۱

د مسلک لارښونه -۲

د ادغام پلان لپاره غونډه -۳

دا غونډې سره تړلې وي، او دا مهمه ده چې تاسو په ټولو غونډو کې ګډون وکړئ.



**رازساتنه**

د مسلک مشاور د راز ساتنې دنده لري. دا پدې معنا ده چې د مسلک مشاور نشي کولی بل چا ته د هغه څه په اړه ووایئ چې تاسو خبری پری کړي وئ.

**ژباړونکې**

د اوسلو د مسلک مرکز کې، موږ د مسلک لارښوونې په مرکو کې له مسلکی ژباړونکو څخه کار اخلو.

**د مسلک لارښودنې یاداشت**

کله چې د مسلک لارښودونه پای ته ورسیږي، د مسلک لارښود به پای کی له خبرو اترو څخه په ناروې کې د زده کړو او کار لپاره د ستاسو د هیلو او فرصتونو په اړه یو یاداشت ولیکي. په NAV کې د ستاسو مسؤل کس به دا یادداشت د ستاسو د هیلو او NAV ولولي. نو په دی توګه پلانونو په اړه مهم معلومات ترلاسه کوي، کوم چې ستاسو د انترودوکشون پروګرام لپاره مهمه دی.

**د ادغام پلان**

او د خدماتو په مرکز کې د NAV ،تاسو ناروېژی مشاور به وروسته د مسلک له لارښوونې څخه سره وګورئ ترڅو چی د ستاسو د ادغام لومړی پلان جوړ کړئ.

Oslo

**Adresse:**
Karoline Kristiansens vei 8
0661 Oslo

**Telefon:**
23470000

**Epost:**
karriereveiledning.intro.felles
@osloskolen.no

**Post:**
Oslo Kommune,
Utdanningsetaten,
Oslo Voksenopplæring
Servicesenter,
Postboks 6127 Etterstad
0602 Oslo



Oslo

# د مسلک لومړنی لارښود